# د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند

# بنسټيزي موخي (هدفونه)

# PSDP Manifesto

## د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند خپرونه

ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN PARTEI DER PASCHTUNEN
ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL DEMORATIC PARTY
DA PAKHTANU TOLANIZ WOLASWALIZ GUAND KHPARAWANA

www.pashtoonkhwa.com




## يا به يو کېږو ګني ورکېږو

د لوي او بخښونکي څښتن په نامه

# د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند د بنسټيزو موخو (هدفونو)

## لنډه پيژند ګلوي

### لا بــه يو کيــږو ګني ورکيــږو

ددې پروګرام مقصد دادی، چې د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګونـــــد Pashtoon Social Democratic Party (PSDP) غړي، مينه وال او پلويان د ګونـد په موخو( اهدافو) پوهه شي. دابنسټيزي موخي(هدفونه) په تفصيل سره نه دي بيان شوی، بلکه دهيواد او سيمی دروانو حالاتو د غوښتنو سره سم د ګوند ځينو موخو لنډيز دی.

که د پښتونخوا تاريخ ته ژور نظر واچوؤ، نو وبه وينو چې دپښتنوپه خاوره په بيلابيلو وختونوکې دبيلابيلو تيري کوونکو په وړاندي (مقابل کې) قامي ازادي بخښونکي غورځنګونه منځ ته راغلي دي.

دانګريزي ښکيلاکي (غاصب) ځواک په وړاندي دپښتنو دستر مشرخان عبدالغفار خان (فخر افغان ) باچاخان په مشرۍ د پښتنود قامي ازادۍ د عدم تشدد(بی تاوه پاځون)خدائي خدمتګارو غورځنګ په 1929ع کال کې منځ ته راغی ،چې د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند دد ې قامي غورځنګ يوه برخه د ه.

په بره پښتونخوادروسي پوځونو ديرغل وروسته ددې غورځنګ يو شمير پلويانوديوداسي ګونددجوړيدوضرورت وليدچې په بنسټي، ريښتينې (حقيقي) ولسولۍ، په پښتني عنعنه او ټولنيز عدالت ولاړ وي.

د اوږدې تيارۍ ،هڅو او يو بل سره داړيکو(تماسونو) وروسته د 1981 ع کال دجنورۍ په لومړۍ نيټه د پښتنودټولنيز ولسوليزګوند(PSDP) د جوړيدو پريکړه وشوه او د اروابناد ډاکتر کبير ستوري تر مشرۍ لاندي




که سپوره وي که پوره په شريکه به وي (باچاخان)

**Das Brot, ob belegt oder trocken, wird unter allen gemeinsam aufgeteilt.** ***Buttered or unbuttered bread will be common.***



د هدف لپاره لارې لټوه،
خو د لارې لپاره هدف مه بدلوئ
(ستوري)

یوې جرګه کې، ته چې مهم سرېتوبونه (شخصیتونه) ئي ښاغلی علیخان محسود، ښاغلی لیاقت وطنپال او اروانښاد قدوس تندر ؤ، دا دنده ورپغاړه شوه چې د ګوند بنستیزه (منشور) ولیکي. د ګوند بنستیزه د هیواد دننه او بهردپښتنو دملي (قامي) ازادی، بخښونکي غورځنګ د پلویانوله خوا تائید او د 1981 کال د فبروری د میاشتی په 27 مه نیټه په یوه بنستیزه غونډه کې ومنل شوه اودګوند جوړیدل رسماً اعلان شول.

د ټولو پښتنو د یووالي اوخپلواکی ( ازادی) دګوند په توګه پکې دلرې اوبرې پښتونخوا پښتانه داروانښاد ډاکترکبیر ستوري تر مشری لاندي په یوه ټغر راټول شول او په ګوند کې دپښتنویووالي په عمل کې پلې شو.

دپښتنوټولنیز ولسولیز ګوند Sozialdemokratische Partei der Paschtunen (PSDP) چې دپښتنو رسالت ورپغاړه دی د ټولو پښتنو ګډ کور اوشریک ملي (قامي)سنګردی چې،دپښتنود قامي شعور اواحساس د رابیدارولو ،د ولسولی په چوکاټ کې دپښتنو د حقوقو د لاسته راوړنو،سوکالی، ابادی، خپلواکی او قامي وحدت لپاره بی له ستومانتیا اوستړتیا، دپښتني دود، دستور،عنعني اود پښتونولی د ارونو(اصولو)سره سم مبارزه اوهلي ځلي کوی چې دخپل بنسټ رایسي په دې لاره کې دډیرو تودو،سړو،ربړو،ستونزو،کړاونو او د سختو ازموینو سره مخ شوی، خو خپله ډیوه ئي بله او روښانه ساتلی ده. دغه راز دهیواد دننه اوبهر ځیني کولتوري ټولنې سیاسي او غیرسیاسي خوځښتونه دپښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند پیداوار(تولید) او ثمره هم ده.

پښتانه ټول د یو وجود حیثیت لري، دپښتنو ټولنیزولسولیز ګوند (PSDP) په دې پوره یقین اوباور لري چې ترڅوپوري پښتنوخپل قامي پیژند (تشخص) نه وي پیداکړی، ترهغې پورې د دوئ ټولنیزي (اجتماعي) ربړي (مسئلي)نه شي حل کیدلی او هیڅ یو پښتون دپت،عزت، درناوي او سرلوړی مقام موندلی نه شي.



# بنسټیز(بنیادي) ارزښتونه:

1. پښتونولي، ټولنولي،اوولسولي دپښتنو ټولنیز ولسولیزګوند(PSDP) تاداو او بنسټ جوړوي.

2. دپښتنو ټولنیز ولسولیزګوند (PSDP) رسمي ژبه پښتو ده.

3. د ډیموکراتیکو نړیوالو نورمونو سره سم به د هیواد دستر ډیره کې ولس ژبه دهیواد رسمي (سرکاري) ، ملي ، دفتري (دوتري) اود منځنیو او لوړو زده کړو ژبه وي.

4. دپښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند(PSDP)دهیواد دمیشتو لږه کیو ورونو قومونود مورنیو ژبو د پرمختګ لپاره لازم ګامونه اخلي.

5. پښتانه په سیمه کې یوسوله خوښوونکې پر امنه سترځواک دی، سیمي ته ثبات (ټیکاو)او امنیت بخښي،پرته دپښتنودقامي وحدت، سوکالی اوارامی څخه په سیمه کې امن اوسوکالې نه شي راتلای،نو دامن ،سولي او ثبات دراوستلوپه خاطردپښتنوټولنیز ولسولیز ګوند (PSDP) دسوله ایزې مبارزې (پر امن جدوجهد ) له لاري دپښتنود قامي یووالي (وحدت) اونژدیوالي لپاره مبارزه او هلي ځلي کوی او د پښتنو قامي وحدت ئې د بي تاوه پاڅون(عدم تشدد ) له لاري ستره دنده، بنسټیز مرام ،موخه او غوښتنه ده.

6. د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند (PSDP) د باچاخان د پښتنودقامي ازادی، د عدم تشدد دخدائي خدمتګارو د غورځنګ په نتیجه کې د نورو منځ ته راغلو قامي ګوندونو ،غورځنګونو ،سیاسي او غیر سیاسي ډلو، ټپلو او ټولنو سره نظریاتي یووالی اونژدې اړیکي لري اوددوی له غږسره ئې تل خپل غږ مل کړی دی.

7. د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند (PSDP) دخپلوټولوملي (قامي) ،سیاسي او ولسي مشرانو سربښندنې ،مبارزي (جدوحهد )او قربانیو ته پوره

ارزښت ورکوي او ټولو ته یوشان درناوی لري.

8. د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند (PSDP) د نوامبر دولسمه نېټه د پښتنو د یووالي د ورځې په نامه نومولي او له ۱۹۹۳ ع کال د نوامبر د دولسمې نیټې رایسې د پښتنو د یوالي ورځ هر کال په بیلابیلو بڼو کې لمانځي.

9- د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند(PSDP) دخپل سپیڅلي (مقدس) دین اسلام دپرمختګ او ټینګښت لپاره هلې ځلې کوي اودنورودیني عقیدو او ازادۍ ته په درنه سترګه ګوري، دهغوۍ د دیني حقوقو دخوندي ساتلو اودهغوۍ سره د وړ چال چلن پلوی کوي.

10. ژوند دلوي خدای ج له لوری په خپل مخلوق لورینه ده. د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند(PSDP)د انسانانو ژوند، انساني کرامت او درناوي ته تر هر څه زیات ارزښت ورکوي او غواړي چې هیڅوک په غیر انساني توګه جسماني او ساوال (نفسي/ روحي) ونه ځورول شي اود ژوند په ټولو چارو کې مساوي حق ولري.

11. ازادي دانسان پیدا ایښتي،طبعي او فطري حق دی. دفکر، نظر، وینا، لیکنو، سوله ایزولاریونونو (مظاهرو)، جلسواواعتصاب(اړتال/Strike) ازادي پرته له رنګ، نسل، ښځې اونرد امتیازڅخه دپښتنوټولنیز ولسولیز ګوند (PSDP) غوښتنه ده.

12. د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند (PSDP) د یوې داسې ټولني د جوړولو هڅه کوي چې هر څوک پکې په ازادانه توګه خپل سړیتوب (شخصیت) ته وده ورکوي او د انسانانو په چوپړ(خدمت )کې د ټولنې په سیاسي، اقتصادي او کولتوري (ثقافتي) ژوند او چارو کې برخه اخلي.

13. د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند (PSDP) هر ډول امیرولي ( ډیکتاتوري) مطلقه ټولواک او یو ګوندیز حاکمیت نه مني چې د انسانانو ازادي او حقوق له مینځه وړي. د ولسولۍ (ډیموکراسی/جمهوریت) دټینګښت لپاره دداسي یوعادلانه حکومت جوړول غواړي، چې دټولو میشتو ورونو



قومونو حقوق پکې ددوئ دشمیر (نفوس) په اندازه خوندي شوي وي.

14. دپښتنوټولنیز ولسولیز ګوند(PSDP) دسوسیال ډیموکراتانو، ټولنیزو ولسولیزو ګوندونو، ډلو، ټپلواو ټولنو سره په ګډو موخو(هدفونو) اوګډو تکو په بیلابیلو برخو کې په بیلابیلو بڼود ګډ کار لپاره هڅه کوي.

15. دپښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند (PSDP) په نړیواله ټولنه کې د هیواد لپاره د وړځای د ټاکنې، د نړۍ د امن دوسته قوتونو، او دګاونډیو هیوادونو سره دمتقابل احترام، ښه ګاونډیتوب او د حقوقو د برابرۍ پر بنسټ په اقتصادي، سیاسي، کولتوري او دژوند په نورو برخو کې د نژدې ملګرتیااو ښو اړیکو هڅه کوي.

16. دپښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند (PSDP) په نړیوال اقتصادي بازار کې د نړۍ اوسیمې ( منطقي) له هغه قامونو سره چې زمونږ هیواد ورسره ګډې ګټې لرې دسیمه ایز(منطقوي) اقتصادي اتحاد په بیلابیلو بڼود ګډ کار لپاره لاري چاري برابروي.

17. ژبه دقامي پیژند(تشخص) نښه اوپه انساني ژوند کې مهم رول لوبوي دپښتنوټولنیزولسولیزګوند(PSDP) دخپلې ژبې، کولتور (ثقافت/تهذیب)، هنر او ادب وده پیاوړتیا اوپرمختګ خپله بنسټیزه دنده (وظیفه) ګڼي او په دې لاره کې نه ستومانه کیدونکي هر اړخیزې هلې ځلې کو ي.

18. دپښتنوټولنیزولسولیزګوند(PSDP) غواړي چې ددولت(ستیټ) درې واړه قوې ( قانون جوړونکې، اجرائیه اوعدلیه) دپښتونولۍ پر بنسټ ولاړې وي او د پښتنود جرګوپریکړې رسمي خوي پیدا کړي.

19. پوهنه، زده کړه، ښوونه او روزنه دهیواددهر اوسیدونکی بنسټي (بنیادي) حق دی.

20. دلسم (۱۰) ټولګي پورې زده کړه دهیواد په ټولو وګړوجبري ده او د لوړو زده کړو تر بشپړیدو پورې به ئې چارې او لګښت دحکومت (دولت /ستیټ ) په غاړه وي.

21. پوهنه باید چې هر چا ته ددې امکان ورکړي چې خپل استعداداو پوهې ته پرته له کوم خنډ څخه وده ورکړي اودټولني داړتیااودخپل ذوق، استعداد، قابلیت سره سم په خپله خوښه خپل مسلک، کسب، شغل، څانګه اود لوړو زده کړو ډول او بڼه وټاکي.

22. په پوهنه کې ډیره پاملرنه مسلکي ښوونځیو او زده کړې ته پکار ده ځکه چې د یوې خوا د مسلکي زده کړې په واسطه وطن ابادیدلی شي او د بلې خوا هر سړی په خپلو پښو ودریدلی شي.

23. دپښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند (PSDP)د هیواد د سمسورتیا، د ولس او ټولنې د ښه پرمختګ، لوړتیا، وړتیا، نیکمرغۍ او هوسایني په خاطر ځوان کول (نسل) لپاره چې د هیواد د هر اړخیز پرمختګ او راتلونکې غوره اوغښتلی ځواک دی، د سالمي، روزنې او ښوونې لپاره ډاډمن شرایط او د نړۍ د نوي پرمختللي ټیکنالوجۍ څخه په ګټه اخستنه لازمي اسانتیاوي برابروي.

24. دپښتنوټولنیزولسولیزګوند(PSDP) به دهیوادپه ګوټ ګوټ کې د پوهنیزو (علمي)، څیړنیزو، مالوماتي مرکزونو، کتابتونونو، لومړنیو، منځنیو، عالي، مسلکي(کسبي)، تخنیکي ښوونځیو، علمي موسئسو، اوانستیتو نونود جوړولو او پراختیا لپاره کوټلې ګامونه اخلي.

25. پوهنیزي (علمي) څیړني به دولت (سټیټ)غښتلې کوي او نتیجې به ئې دولس (عوامو) په چوپړ(خدمت) او د ټولنې په وده کې پکار راولي.

26. د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند (PSDP) د بې سوادۍ د منځه وړلو اود هیواد په بیرته پاتي او جنګ ځپلو سیمو کې دیوځانګړي پروګرام او پلان لاندي دپرمختللې ساینس او ټیکنالوژۍ نه په ګټه اخستنه دښوونیزو، روزنیزومرکزونو، ښونځیواوپوهنتونونوجوړول خپله دنده ګڼي.

27. دپښتنوټولنیزولسولیزګوند(PSDP)دښځوزده کړې ته ځانګړې پاملرنه کوي، تر څود هیواد په ابادۍ او دژوند په هره برخه کې فعاله ونډه واخلي.



28. د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند (PSDP)دصنایعو د پراختیا، د تولیداو پیداوارد ودې اودخلکودژونددسطحي (کچې) دلوړتیااوښه والي لپاره اغیزمن پروګرامونه جوړوي.

29. د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند (PSDP)کورني او نړیوال پانګه وال (سرمایه دار) اوسوداګر دې ته هڅوي چې په هیواد کې پانګوونه وکړي، حکومت (دولت / سټیټ )به ددوئ د پانګو د ساتلو ضمانت ورکوي.

30. د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند(PSDP)به پیداوار، تولیدي وسایل، اقتصاد او خصوصي ملکیت داسي تقو یه کوي چې د یوې خواد کار ځایونه پیدا شي اودبلې خوا هیواد صنعتي وګرځي، صنعت به په ټول هیواد کې خوراو وروي او مرکزي بڼه به نه لري.

31. دپښتنوټولنیزولسولیزګوند(PSDP) دهیوادملي شتمنیو، عامه او ولسي ملکیت لکه غرونو، ځنګلونواوپه ځنګلونوکې دحیواناتو، دښتو، دځمکي لاندي طبعي زیرمو، کانونو (معدنیاتو) او لرغونو (پخوانیو) تاریخي اثاروځیړنه، پلټنه، ژغورنه، ساتنه اوڅارنه کوي.

32. دپښتنوټولنیزولسولیزګوند(PSDP) به دملي شتمنیو پراختیا، خوندیوالې، ښه والي اودسم اومناسب استعمال اوددې څخه دفني او سمې ګټې (استفادی) اخستنې لپاره لازمي لاري چاري لټوي.

33. کار د هیواد دهر اوسیدونکې حق دی. دولت (سټیټ )به دکار د پیدا کولو لپاره کوټلې ګامونه اخلي. جبري کار او په ماشومانو کار منع دی او هغه چا ته چې کار نه پیدا کېږي او یا دکار کولووس اوتوان نه لري ددولت (سټیټ) له خوا به دومره مرسته ورسره کېږي چې ګوزاره پرې وکړي.

34. دولت (سټیټ )به له بې وزله او زړو کسانو، بې سرپرسته میرمنو، یتیمانو اوبې کوره وګړو سره لازمه مرسته کوي.

35. د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند (PSDP)دټولنیز امن او د ژوندانه د هر

ډول شرائطودښه کولو ،دهیوادوالودلومړنیوبنسټیزواړتیاووډ پوره کولو او د غربت د کمولو او ختمولو لپاره خپلې ټولې وسیلې په کار اچوي.

36- زمونږ د ولس ډیره کئ برخه د کرکیلي ،څارویواو مالدارئ څخه ژوندکوي. دپښتنو ټولنیز ولسولیز گوند (PSDP) زراعت، مالدارئ او دکرنې ودې اوپرمختیا ته ځانګړی پاملرنه کوی، کرنې او مالدارئ ته د ودې ورکولوپه خاطر به بزګرانو ،دهقانانواومالدارانوته دپرمخ تللې زراعتي ټیکنالوژئ ته دلاس رسي، داصلاح شویو تخمونو او نورو اړینو (ضروري) مرستو لپاره لازمي اسانتیاوي برابروي.

37- د پښتنو ټولنیز ولسولیز گوند (PSDP) دکوچیانودښوونې او روزنې او د ژوند د هراړخیزوشرایطو د ښه کولو او لازمو ځایونو کې د میشته کېدولپاره اغیزمن ګامونه اخلي.

38- بریښنا( برق /بجلئ) دهیواد د پرمختیا د لومړنیو ضروریاتو څخه ده، دپښتنو ټولنیز ولسولیز گوند(PSDP)به د هیواد په ټولو سیندونو د ځانګړیو پروګرامونو او پروژو له لاری دبریښنا ( برق /بجلئ) بندونه ( ډیمونه) جوړوي، چې له یوې خوا هیوادوالو ته بریښنا (برق/بجلې) ورسیږي، او له بلې خوا کارخانې فعالې او د کار ځایونه پیدا شي.

39 - دپښتنوټولنیز ولسولیز گوند(PSDP)به د رودونو، ویالو، نیرونو، ژوروڅاګانو (ټیوب ویلونو) او کاریزونو دجوړونې لپاره لازمي لاري چاري برابروي،ترڅودهیواد ډاګونه ،للمي او ټولې شاړی ځمکې خړوبې، سمسوری او زرغونې شي،د هیواد پیداوار(تولید ) به زیات او ولس به په خپلو خپو دریدلای شي.

40 - پښتنو ټولنیز ولسولیز گوند (PSDP) دخپل ولس روغتیا(صحت) اودچاپیریال پاک ساتنې ته ترهرڅه دمخه کلکه پاملرنه کوي. دچاپیریال، دڅنباک داوبو،دویالو،رودونو،سیندونو،پارکونو،باغونو پاک ساتلو اودناروغیو دمخ نیوي او وړیا درملني (علاج) لپاره کوټلي ګامونه اخلي.



41- دپښتنو ټولنیز ولسولیز گوند(PSDP)به د غټو ښارونو سربیره په ټولو ولسوالیو (ضلعو)، کلیو او بانډو کې روغتونونه (هسپتالونه)، رغونځي (کلینیکونه) او روغتیائي مرکزونه جوړوي او د روغتیا بیمي (Health Insurance System)سیستم به رواجوي.

42- کورنئ دټولني بنسټ جوړوي. دپښتنوټولنیزولسولیز گوند(PSDP) دموراوماشوم روغتیا(صحت)،روغي(سالمي)روزني اوپالني ته ځانګړې او ژوره پاملرنه کوي.

43- رسنئ(میډیا)،ورځپاڼې،خپرونی،مطبوعات،راډیو،تلویزون، تیاتر (ډرامه)،ډله اېزي،بریښنایزي اولیکلي رسنئ،پریس اوفلمونه به دټولني ددود،دستور،رسم او رواج سره سم خپلې چاري پر مخ بیائي اودولسولئ (ډیموکراسئ) داصولوسره سم به دهیواد په ملي ژبه وي. دلږه کېو قومونو په مورنیو ژبو به هم خپروني کېږي.

44- مخابرات (مواصلات/کمیونیکیشن) بې سیم اونړیوال جال (انټرنټ) د هیواد د هراړخیزي پرمختیا لپاره اړین (ضروري) دی. دپښتنو ټولنیز ولسولیز گوند(PSDP)به نړیواله پرمختللي ټیکنالوژئ (کمیونیکیشن او انټرنټ) د هیواد کوټ،ګوټ ته رسوي.

45- دپښتنو ټولنیز ولسولیزگوند(PSDP)دجګړې له امله دپښتنودویجاړ شووسیمو او ځایونوبیارغونې ته لومړیتوب ورکوي.

46- دپښتنو تاټوبي دتاریخ په اوږدو کې دبیلابیلوتیري کوونکو دجنګ ډګر ګرځیدلی دی چې تر ټولو زیات ئي قبائیلي سیمي زیانمني کړي دي. د همدې غمیزواوناورینونو له امله قبائیل د اقتصادي ،پوهنیزو(علمي)، کولتوري ،سیاسي، ټولنیزو، اودژوند د پرمختیا دډیرو اړینوبرخو څخه بې برخي او روسته پاتې شوي دي. دپښتنوټولنیز ولسولیز گوند(PSDP)به د قبائیلو دپرمختیا (ترقئ) لپاره کوټلي پروګرامونه او پلانونه جوړوي ،ددوئ د هر اړخیزې پرمختیا لپاره به خپلي ټولي وسیلي په کار اچوي.

47. دپښتنو ټولنیزولسولیزګوند(PSDP)دمسلکي ښوونکو، پروفیسرانو او متخصیصینو روزنه چې دپښتون قوم د بیدارۍ لپاره ډیره ضروری ده خپله دنده(وظیفه)ګڼي.

48. د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند(PSDP)دهیواد د ابادۍ، د ښارونو او دکلیو دپراختیا لپاره د لویو لارو، سرکونو، د ریل ګاډی د پټلۍ، کوڅو، کورونو، پلونواو د ویالواو د ویالو د بندونوجوړولو لپاره کوټلې عملي ګامونه اخلي د کورجوړوني په وخت کې ئې روغتیائي اړخونه، د څښاک پاکې اوبه او دغه راز کانالونه (کانالیزیشن)، پارکونه، وړکتونونه، دبدني روزني لوبغالي او باغونه په نظر کې نیسي.

49. د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند (PSDP)د ملګروملتونو د موسئسې ( اقوام متحده ) د منشور او دانساني حقوقو د اعلامیې او د ټولو اولسونو د خود ارادیت او خپلواکۍ د حق دفاع او ملاتړ کوي، زبیښناک (استعمار) او ښکیلاک (استسمار) په کلکه غندي.

50. د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند(PSDP)دخپلو ملي ګټودفاع، د ولس ساتني او امنیت ته لومړیتوب ورکوي.

51. د هیواد د ځمکنۍ بشپړتیا، ملي واکمنۍ، خپلواکۍ(ازادۍ)، دفاع او ساتنه دهیواد دهر وګړي دنده او دوسله وال پوځ زمه واري ده، ملي او محلي(ځائی/سیمه ایز/Local) پولیس (ځارندوي) دهیوادد امن، عامه نظم او د ولس دچوپړ( خدمت) دنده او زمه واري په غاړه لري.

52. قاضیان، څارنوالان، دامنیتي ځواکونو، دځارندویانو (پولیسو) اود وسله وال پوځ چارواکې (افسران) چې تر څو په خپله دنده بوخت وي په سیاست کې به برخه نه اخلي.

53. وسله وال پوځ او لښکر به خامخا د ملي جرګې (قامي اسمبلۍ) د کنترول او د حکومت(دولت /سټیټ) د لاس لاندې وي.

54. دهیواد سټیټ/دولت به ډیموکراټیک (جمهوری/ولسولیز) وي،



عدالت (انصاف) اود قانون برلاسی به پلې وي. ستره محکمه به د حکومت څخه جدا او خپلواکه وي.

55. عدلیه، اوستره محکمه به بې له رنګ، نسل، ژبې، او قوم څخه د ټولو هیواد والو سره یو شان انصاف کوي.

56. ددولت (سټیټ) واک به دولس په لاس کې وي چې په سیده(مستقیم) ډول ئې پخپله او یا دخپلو استازو له لاري پلی (عملي) کوي. دولت به یوه ولسي جرګه (قومي اسمبلۍ ) او بله د مشرانو جرګه (سینټ/سنا ) لري اودجغرافیائې او اداري اسانتیاووله مخي به په ولایتونو (سوبو) لویو ولسوالیو (ضلعو) او ولسوالیو (تحصیلونو) ویشل شوي وي. هر ولایت (سوبه) به ولایتي جرګه (سوبائی اسمبلۍ) لري. لوي ولسوالۍ (ضلعي) او ولسوالۍ(تحصیلونه) به هم خپلې خپلې جرګې لري، چې داجرګې به د هیواد د نفوس په انډول دولسولۍ (ډیموکراسۍ) په چوکاټ کې دډیرو ګوندونوله لاري دازادواو سیده ټاکنو (انتخاباتو) په واسطه ټاکل کېږي.

57. دپښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند(PSDP)به په پښتنو کې له پخوا څخه موجودټولنیز او دودیز بنسټونه چې د ډیرو سیاسي او ټو لنیزو ناخوالو مخه ئې نیولې وه، او په وروستیو کلونو کې د بیلابیلو سیاسي او مذهبي جنګي ډلواوحکومتونو له خوا زیانمن شوي، بیرته فعال او تقویه کوي.

58. د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند(PSDP)دپښتنو په لوې ټاټوبي کې پرته له پاسپورته، بې له تپوسه د ټولو پښتنو په ازاد تګ راتګ او ازاده سوداګرۍ (تجارت) او په خپله خاوره کې په خپله خوښه په هرځای کې د اوسیدودحق لپاره مبارزه کوي.

59. دپښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند(PSDP)په هیواد کې د پښتون وژنې، ولس وژنې او ورور وژنې او ددې ناورین ( غمیزې) څخه د خلاصون په خاطر لرې او برې پښتونخوانه د پښتونولۍ د ارزښتونو پر بنسټ یوه واکمنه (باصلاحیته) قومي ریښتیني دودیزه جرګه چې په حقیقت کې د

پښتون قوم استازيتوب (نماينده ګي) وکړي رابلي، ترڅو د موجوده ستونزو د حل لپاره مناسبي لاري چارې ولټوي او روان ناورين او جګړي ته د سیمه ایزو او نړیوالو سوله خوښوونکو (امن دوسته) او انسان دوسته قوتونو په ملاتړ د پای ټکی کېږدي.

November 2012

*************************

ای د مـــرغی غښتلیو راشی　　په ننګ ولاړ د پښتونخوا شی
په کلي کور باندې مغل راغی　　هـــم په غزني هم په کابل راغی
(هوتک بابا)

---

نوره واړه پښتونخوا په ځائي پرته ده * دا یو زه دې زمانې پکې منصور کړم
(خوشال بابا)

درست پښتون له کندهاره تر اټکه
سره یو د ننګ په کار پټ او اشکار
(خوشال بابا)

---

لکه شعر دی د دهٔ په پښتونخوا کې
بل به کم وي په دا وخت د افغان شعر
(رحمن بابا)

---

د ډيلي تخت هیرومه چې را یاد کـړم
زما د ښکلې پښتونخوا د غرو سرونه
(احمدشاه بابا)

---

زما باور دی چې دا تالاوالا پښتون به ارومرو خپل قامي وحدت ګټي، د دغه وحدت شکل به څه جوړیږي، دا فیصله به وخت کوی. (محمد افضل خان لالا)


خپرونکی: د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند پښتونخوا / افغانستان

Herausgeber: Sozialdemokratishe Partei der Paschtunen Pashtunchwa/Afghanistan

Publisher: Pashtoons Social Democratic Party (PSDP) Pashtoonkhwa/Afghanistan



ذمه وار
**V.S.I.P**
**Reponsible for contents**
د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند
**[PSDP]**
**KIEBITZWEG.12**
**50389 WESSELING**
**GERMANY**
**Tel & Fax: 00492236/841930**
**E-Mail: pashtoonkhwa@gmail.com**



**Redaktion:**
**Editorial Board:**
د خپرونې جرګه:

| | |
|---|---|
| Gul Ghutai Kunarai | ګل غوټۍ کونړۍ |
| Ali Khan Mahsood | علی خان محسود |
| Mabariz Zapi | مبارز ځاپی |
| Aziz Sarshar | عزیز سرشار |
| Nasir Stori | نصیر ستوری |